# بادام: د اصلي ونو کښېنول

ټېليفون: 977-758-0799 برېښناليك: javid.hamidzada@rootsofpeace.org



## د اصلي ونو کېښنول

د هغو اصلي ونو ځانګړنه اختيار کېږي چې د سيمې سره يې توافق کړی وي، د سيمه ايزو ستونځو سره مقاومت (مثلاً حشرات او ناروغۍ) ولري او د پيوند لپاره وړ وي.

1. **د ځمکې چمتو کول**
   أ. ځمکه داسې چمتو کړئ چې د کښېنولو يو کتار تقريباً ۱.۲ متره سره لرې ولري



2. **د زړيو(تخمونو) چمتو کول**
   أ. د يوې پيژندشوې سرچينې د زړيو ځانګړنه واخلئ چې د پيوند وړ وي
   ب. د امريکا په متحده ايالاتو کې د بادام د اصلي ونې په توګه د شفتالو ځانګړنه اختيار کېږي. په نورو هيوادونو کې کله کله د ترخو بادامو ځانګړنه اختيار کېږي
   ج. وروسته د پاکولو ځخه، زړي د لمر د مستقيمې رڼا ځخه پرته د دوه اونيو لپاره وچ کړئ
   د. يخ وهلي زړي د را شنه کېدو کچه لوړوي، زړي کيداى شي چې وروسته د کښېنولو ځخه په ځمکه يا د طبقه جوړلو په ځای کې چې هلته زړي په په‌سړو (۱-۲ سانتيګراد) انبارونو کې ۱-۲ مياشتې د بادام زړي او ۳-۴ مياشتې د شفتالو زړي ساتل کېږي.
   ه. زړي د ژمي په وروستيو/د پسرلي په پيل کې کښېنوئ



3. **د زړيو ځای په ځای کول**
   أ. د زړيو کيفيت ته په پاملرنه د اېښودلو په هرځای کې د ۳-۱ زړي داسې اېښودل کېږي چې ځوکه يې ښکته خواته وي.
   ب. زړي داسې اېښودل کېږي چې ونې د ۱۵ سانتي مترو په ويڼو کې واقع شي.
4. **د زړيو يا تخمونو پټول**
   أ. د لاس يا ماشين په واسطه زړي پټ کړئ
5. **اداره**
   أ. د اړتيا سره سم يې اوبه کړئ – د حده ډيرو اوبه ګولو ځخه ډډه وکړئ
   ب. په لږه او متکرر ډول ځمکه د يوې بشپړې (N:P:K) غذايي سرچينې په واسطه د روغو او غښتليو ونو لپاره ځمکه‌بښيرازه کړئ. (سره ورکړئ)



6. **پيوند کول**
   أ. که اصلي ونې (ساقې) په فعاله توګه وده کوي او پريروالى يې د پنسل په کچه شوي وي نو دا ډول نيالګي د پيوند لپاره چمتو دي.
   ب. دښې اداري په پايله کې دا شونې (ممکنه) ده چې تخمي نيالګي په يو کال کې توليد کړو

د جان ډرايور، کورکي لوين او مارك په واسطه چمتو شوی، د ۱۳۸۷ کب مياشت

دا خپرونه د اروپايي اتحاديې، دبېوالې د پرمختيا پروګرام، د بادامو د صنعت د پرمختيا د پروژې په مالي مرسته، د سولې بنسټ د مؤسسې د ASIE/2007/135-504 قرار داد لاندې چمتو شوې. کابل‌ټيليفون 794677212 (0) 93+،
zach@rootsofpeace.org
ددې خپرونې د محتوىٰ مسؤليت په بشپړه توګه د کاليفورنيا د ډيوس پوهنتون په غاړه دی او په هيڅ صورت سره د اروپايې اتحاديې د نظر ځرګندويه نه ده.
د خپريدو حق © UC Regents Davis campus، 2009 ميلادي‌بټول حقوق خوندي دي.

د ډيرو معلوماتو لپاره د: www.ip.ucdavis.edu, http://ec.europa.eu/europeaid/index_en.htm, www.rootsofpeace.org مراجعه وشي